**بسم الله الرحمن الرحيم**

## په اسلامي دولت کې ګمرکات

سامح ريحان أبو ميسرة ته:

**پوښتنه:**

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته! په (اسلامي نظام) کتاب کې راغلي چې دولت د خپلو مصارفو لپاره د اړتيا وړ بوديجه د شريعت مطابق راټولوي. په دغه کتاب کې دا هم راغلي چې دولت پر داخلي او بهرني تجارت د يوه څارونکي په توګه ګمرکي ماليات وضعه کوي او راټولوي يې.

د کتاب دا متن د ګمرکونو پر اوسنۍ پاليسي ستاسو له نيوکو او حملو سره ځومره سر خوري، که د رسول الله صلی الله عليه دا حديث په نظر کې ونيسو:

**«لا يدخل الجنة صاحب مکس»**

***ژباړه**: ماليه ټولوونکی به جنت ته داخل نه شي.*

ايا داخلي تجارت په دې مانا دی، چې دولت به پخپله د اسلامي دولت د ولايتونو تر منځ پر سوداګريزه راکړه ورکړه تعرفه وضعه کوي؟

**ځواب:**

وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

ـ د المکس (د ګمرکي ماليانو او تعرفو وضعه کول) حديث الحکيم په المستدرک کې روايت کړی دی، د ده په وينا چې دا حديث صحيح دی، دی وايي: «دا حديث د مسلم له نظره صحيح دی، خو هغه نه دی روايت کړی.»

د حديث متن په دې ډول دی: عقبه ابن عامر روايت کوي؛ ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل:

**«لَا يَدْخُلُ صَاحِبُ مَكْسٍ الْجَنَّةَ»**

***ژباړه:** هغه شخص چې مکس (ګمرکي ماليه) وضعه کوي جنت ته به نه شي داخل.*

دا حديث د اسلامي دولت اتباعو ته راجع دی، هغه که مسلمانان وي که غيرمسلمانان (اهل الذمه)، له دوی څخه پر سوداګريزه راکړه ورکړه ګمرکي ماليه اخيستل جواز نه لري، دوی سوداګري کولی شي، خو ماليه نه ترې اخيستل کېږي، هغه که د اسلامي دولت د ولاياتو تر منځ وي، د ولاياتو په داخل کې وي او يا د اسلامي دولت او بهرنۍ نړۍ تر منځ وي، يعنې بهرنۍ سوداګري... نو د اسلامي دولت له سوداګرو څخه که مسلمان وي يا غيرمسلمان ګمرکي ماليه نه اخيستل کېږي... دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم له ترونونو څخه ثابتېږي، چې له هغو کسانو سره لاسليکېدل چې مسلمانېدل، خو عشر يې نه ادا کاوه، له هغوی څخه د سوداګرۍ عشر يا ماليه نه اخيستل کېده.

ابو احمد حميد بن مخلد بن قتيبة بن عبد الله الخرساني چې په ابن زنجويه مشهور دی (مړ ۲۵۱هـ ق) په خپل کتاب (الاموال) کې ليکي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ثقيف قبيلې ته چې په اسلام مشرف شول، يو خط واستاوه، په هغه کې راغلي: حميد وايي چې عروه بن الزبير موږ ته وويل: دا خط د رسول الله صلی الله عليه وسلم له طرفه ثقيف ته راغلی:

«بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، هَذَا كِتَابٌ مِنْ مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ رَسُولِ اللَّهِ صلی الله عليه وسلم لِثَقِيفٍ... وَلَا يُعْشَرُونَ...»

«بسم الله الرحمن الرحيم، دا کتاب(خط) د محمد، د الله د رسول صلی الله عليه وسلم له لوري د ثقيف قبيلې لپاره دی او له دوی څخه به عشر نه اخيستل کېږي. يعنې د دوی پر سوداګرۍ به عشر(ماليه) نه وضعه کېږي.»

ـ ابن شبه په خپل کتاب (د مدينې تاريخ) کې روايت کړي دي، چې رسول الله صل الله عليه وسلم د نجران اهل ذمه عيسويانو ته په خط کې وليکل چې د دوی پر سوداګرۍ باندې بايد ماليه وضعه نه شي. په دې کتاب کې راغلي: ابو الوليد موږ ته وويل... ابو الفتح روايت کوي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د نجران له خلکو سره تړون وکړ او هغوی ته يې خط واستاوه:

«وَلَا يُعْشَرُونَ ...بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، هَذَا كِتَابُ مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ رَسُولِ اللَّهِ لِأَهْلِ نَجْرَانَ إِذَا كَانَ حُكْمُهُ عَلَيْهِمْ»

«بسم الله الرحمن الرحيم، دا خط محمد، د الله د رسول صلی الله عليه وسلم له طرفه د نجران خلکو ته دی، تر هغو چې پر دوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم واک وي، پر دوی به عشر (ماليه) نه وضعه کېږي.» يعنې د غير مسلمانو (اهل الذمه) پر سوداګرۍ بايد د عشر ماليه وضعه نه شي، د دې خبرې ثبوت همدا خط دی چې مسلمانانو د نجران له عيسويانو (اهل الذمه) سره تړون وکړ او په هغه کې راغلي «اذا کان حکمه عليهم» ژباړه: تر هغو چې پر هغوی د ده واک وي» يعنې دا واک د رسول الله صلی الله عليه وسلم و.

ـ ابو عبيده په (الاموال) کې روايت کوي چې عبدالرحمن ابن معقل خبر راکړ: «ما له زياد ابن حدير څخه وپوښتل: تاسې به له چا څخه عشر اخيسته؟ هغه راته وويل: موږ له مسلمانانو او هغه چې تړون مو ورسره درلود، کله هم عشر نه اخيسته. نو ما ورته وويل: نو بيا مو له چا څخه عشر اخيسته؟ ده راته وويل: د محاربو سيمو له سوداګرو څخه، ځکه کله چې به موږ د هغوی سيمو ته د سوداګرۍ لپاره ورتلو، نو هغوی به زموږ څخه هم عشر اخيسته.»

له همدې کبله هغه سوداګر چې د اسلامي دولت تبعه وي، هغه که مسلمان وي يا ذمي، له هغه څخه بايد ګمرکي ماليه وا نه خيستل شي.

د محاربو سيمو د سوداګرو په اړه د شريعت نظر دا دی چې له هغوی څخه په هغه اندازه عشر اخيستل کېږي، څومره چې يې دوی د اسلامي دولت له سوداګرو څخه اخلي... ابو عبيد په «الاموال» کې ليکي: «ما وپوښتل: تاسې له چا څخه د عشر ماليه اخيسته؟ هغه وويل: له هغو سوداګرو څخه چې محارب وه، بس دومره عشر څومره چې به هغوی له موږ څخه د سوداګرۍ پر مهال اخيست.» او ابو قدامه په خپل کتاب «المغني» کې ذکر

کړي دي چې ابو مجلز لاحق بن حمید وویل: دوی عمر ته وویل: که چېرې محارب زموږ ځمکې ته راشي، نو له هغوی څخه څومره مالیه واخلو؟ هغه وپوښتل: هغوی له تاسې څخه څومره اخلي؟ دوی وویل: عشر (لسمه برخه) ده وویل: نو تاسې یې هم په هماغه اندازه ترې واخلئ.»

**پایله:**

گمرکي مالیات د اسلامي دولت پر سوداګرو نه وضعه کېږي، هغه که مسلمانان وي یا ذمیان.

د هغه هېواد له سوداګرو څخه چې تړون ورسره شوی، په هغه اندازه گمرکي مالیات اخیستل کېږي، څومره چې د تړون په مادو کې راغلي وي او دولت لاسلیک کړی وي.

د محاربو دولتونو پر سوادګرو په هغه اندازه گمرکي تعرفه وضعه کېږي، څومره چې دوی زموږ پر سوداګرو وضعه کړې وي. دغه راز د بالفعله محاربو دولتونو (چې موږ له هغوی سره د جګړې په حالت کې یو) سوداګر زموږ خاورې ته له راننوتلو څخه منعه دي، ځکه له دوی سره زموږ اړیکه د حقیقي جګړې اړیکه ده.

**ستاسې ورورعطاء بن خلیل ابو الرشته**

**۱۴۳۵هـ ق د ربیع الاول ۱٦مه**

**۲۰۱۴م د جنوري ۱۷مه**